مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

اکبربری ۲۰۲۳/۰۶/۱۱

# ته لاړې

زه دي مست کړمه نګاره خوته لاړې

ما وې مه ځه خدای لپاره خوته لاړې

زما په زړه کي امېدو وهل موجونه

سر کي شوردعشق بېشماره خوته لاړې

جام دي راکړځان دي جوړکړزما څنګ ته

ماخوله درووړه خولي ته یاره خوته لاړې

د بلبل شاني دي ګل رخ ته نیږدې شوم

ما دعشق نغمه کړه ناره خوته لاړې

هیر به نه شي دا ګړی زما ترمرګه

چي ما شورکړ ستا لپاره خوته لاړې

زه تازه د میني اورپه تن سېځلم

زه تازه خلاص شوم له ډاره خوته لاړې

زه د میني جنون راوستم په چیغو

ما به اوس کړه اصلي چاره خوته لاړې

ما وې یاره خولګی راکه چي وخت کم دی

تا وې نه ځم ترسهاره خوته لاړې

مستانه مي ستا جمال ته خوشخواني کړه

خوښ وم ډېرزه له روزګاره خوته لاړې



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزي بڼي پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکي په ځیر و لولئ